# په برټش میوزیم کښې
# «د میرزا خان انصاري دیوان» یوه هېره خطي نسخه

# A Forgotten Manuscript of Mirza Khan Ansari’s Divan in the British Museum

Ehsanulhaq Kabir[*]

Abstract

Seven distinct manuscript copies of Mirza Khan Ansari’s Divan are preserved in the British Museum, one of which is particularly notable for its antiquity and historical significance. This article is dedicated to the identification and study of that specific manuscript. Although several editions of Mirza Khan Ansari’s Divan have been edited and published, none have made use of this particular copy. During the preparation of this article, I had access to images of the first, second, and final pages of the manuscript, which greatly assisted me in examining its various features.

**لنډیز**

په برټش موزیم د میرزا خان انصاري د دیوان اووه نسخې ساتل کېږي چې په دغو کښې یوه ئې په تاریخي لحاظ ډېره مهمه ده او پخوانۍ ده. دا لیکنه د همدې نسخې پېژندنې ته ځانګړې شوې ده. تر اوسه پورې چې د میرزا خان انصاري د دیوان څه متون تصحیح او چاپ شوي په یوه کښې هم له دې نسخې څخه ګټه نه ده اخیستل شوې، ما ددې مقالې د لیکلو په مهال د دغې نسخې د لومړي، دویم او اخري مخ انځورونه لرل چې د نسخې د بېلابېلو اړخونو د سپړلو په برخه کښې راسره پوره مرسته وکړه.

**سریزه**

څه وخت وړاندې مې «د میرزا خان انصاري دیوان د وروستیو دوو تحقیقي متونو کره‌کتنه او پرتلنه» په موضوع کار کاوهٔ؛ د ۱۴۰۳ل کال په کندهار کښې د میرزاخان انصاري چاپ دیوان چې د پوهندوی مطیع الله روهیال په سریزه، سمون او ویپانګه چاپ شوی وهٔ او همدا مهال د افغانستان د علومو اکاډمي څېړونکي څېړنپوه ډاکټر عبدالقیوم مشواني هم د میرزا خان انصاري په دیوان کار بشپړ کړی وهٔ، چې د علومو اکاډمۍ تاریخي نسخه ئې اساس او نورې څو

---

[*] Associate Professor in Pashto Language and Literature institute, Afghanistan Science Academy (ASA)

قلمي او چاپي نسخې ئې ورسره پرتله کړې وې. ما همدغه دوه نسخې د متنپوهنې له اړخه نقد او پرتله کړې وې، د موضوع د څېړنې په جریان کښې راته څرګنده شوه چې د کندهار د ۱۴۰۳ل کال د چاپ کړي دیوان سره د میرزا خان انصاري دیوان شپږ ځلې چاپ شوے دے. اول ځل په ۱۳۳۴هـ.ق کال کښې د کتابونو کندهاري سوداګرو ملا جان محمد او ملا بسم الله لخوا د لاهور په اسلامیه مطبعه کښې د «دیوان میرزاه د محشي» په نامه، دویم ځل «دیوان مرزا خان انصاري» د همېش خلیل په مقدمه او تدوین په ۱۹۵۹م/ ۱۳۳۸ل په پېښور کښې، دریم ځل «د میرزا خان انصاري دیوان» په نامه په ۱۳۵۴ل کال په کابل کښې د پښتو ټولنې له خوا د څېړنمل دوست (دوست شینواري) په سریزه او تدوین، څلورم ځل په ۱۹۸۴م کال «دیوان مرزا خان انصاري» د قاسم بنوي له خوا د پښتونخوا په بنو کښې، پنځم ځل په ۲۰۰۵م کال په پېښور کښې د پرویز مهجور خوېشکي په سریزه او تدوین ، شپږ ځل په ۱۴۰۳ل کال په کندهار کښې د «د میرزا خان انصاري دیوان [مشهور په هدایة الحقیقت]» په نامه د پوهندوي مطیع الله روهیال په سریزه، سمون او ویېپانګه چاپ شوے دے. تر اوسه پورې د شته معلوماتو له مخې د میرزا خان انصاري انصاري د دیوان تر ټوله زړه او تاریخي نسخه د افغانستان د علومو اکاډمۍ د خطي نسخو په خوندیځ کښې ساتل کېږی چې په ۱۰۸۳هـ.ق کال کښې کتابت شوې ده، چې د پښتو ټولنې په چاپ کړي دیوان کښې ترې ګټه اخیستل شوې، څېړنپوه ډاکټر عبدالقیوم مشوانيي هم په خپل تدوین کړي دیوان کښې ترې ګټه اخیستې او د اساسي نسخې په توګه ئې ټاکلې ده- خو دغه تحقیقي متن تر اوسه لا نه دے چاپ شوے- له دې نه وروسته تر ټولو پخوانۍ نسخه چې مونږ ته څرګنده ده او استفاده ترې شوې هغه د هند د دکن د آصفیه کتابتون ده- له دې څخه د ښاغلي روهیال په تحقیقي متن کښې د اساس نسخې په توګه ګټه اخیستل شوې ده- چې د شواهدو له مخې د ۱۱۲۳هـ.ق کال ده. زمونږ څېړونکو دا دویمه تر ټولو پخوانۍ نسخې بللې ده، خو د برټش میوزیم درې نسخې د دکن د آصفیه کتابتون له نسخې څخه پخوانۍ دي، چې په هغو کښې تر ټولو مهمه نسخه د ۱۱۰۱هـ. ق کال نسخه ده چې له پورته (د دکن) نسخې څخه ۲۲ کاله مشره ده. سره له دې ټولو بیا هم زمونږ څېړونکو د برټش میوزیم له نسخو څخه ګټه نه ده اخیستې او دا نسخه له پامه غورځېدلې او هېره شوې ده، څه وخت وړاندې ډاکټر محمد آفتاب د دغې نسخې څو عکسونه خپارۀ کړي وو چې همدا موضوع زما د لیکنې لپاره انګېزه شوه. په دې لیکنه کښې به د همدې هېرې شوې نسخې په اهمیت او ارزښت باندې بحث وشي.

## د څېړنې اهميت او مبرميت

د پخوانيو متونو په بيا تدوين او تصحيح کښې هره نسخه ډېر اهميت لري په ځانګړې ډول چې د قدامت په لحاظ پخوانۍ وي، دا له مونږ سره مرسته کوي چې تر څو مونږ اصل متن ته ورسېږو هغه متن چې په خپله د ليکوال او شاعر دے. دا چاره مونږ د نسخو د کاتبانو ښوونې او تېروتنو څخه ژغوري. زمونږ موخنه نسخه هم د قدامت په لحاظ يوه تاريخي نسخه ده.

د څېړنې مبرميت په دې ده چې دا نسخه تر اوسه د هېڅ کوم مدون له خوا نه ده کتل شوې او د متن په تهيه کښې ترې ګټه نه ده اخيستل شوې راتلونکو مدونو ته به مونږ د يوې مهمې نسخې پته په لاس ورکړو، تر څو د متن په تصحيح کښې ترې ګټه واخلي.

## د څېړنې موخې

- د ميرزا خان انصاري د ديوان د يوې تاريخي نسخې پېژندنه؛
- د متن څېړنې په برخه کښې د پخوانيو او تاريخي نسخو اهميت او ارزښت؛
- د ميرزا خان انصاري د ديوان په تصحيح کښې د دې نسخې کارونه.

## د څېړنې پوښتنې

1. د متونو په تصحيح، تدوين او بيا احياء کښې قديمې نسخې څه اهميت لري؟
2. د ميرزا خان انصاري دغه نسخه څومره ارزښتمنه ده؟
3. د ددې نسخې ليکدود او نورې ځانګړنې څنګه او څه دي؟
4. دغه نسخه تر اوسه ولې په تدوين شويو متونو کښې نه ده کارېدلې؟

## د څېړنې مېتود

په دې مقاله کښې له تشريحي- تحليلي مېتود څخه کار اخيستل شوے او ډول ئې کتابتوني دے.

## د مقالې متن

ميرزا خان انصاري د نورالدين زوے د بايزيد روښان لمسے دے، چې د پېدايښت نېټه ئې دقيقه نه ده څرګنده، خو له ځينو شواهدو څخه ښکاري چې شايد د ۹۸۹هـ ق کال شا و خوا زېږدلے وي. د مرګ نېټه ئې د روښاني تصوفي او ادبي غورځنګ شاعر دولت لواني د يوه شعر له بېت څخه څرګندېږي:

د دکن په جنګ شهيد شو خوشنود اوسه
په تاريخ د دهٔ د زر څلوېښت ګذر و[1]

میرزا خان انصاري په ۱۰۴۰ هـ.ق کال د دکن په جنګ کښې شهید شوے دے. د میرزا خان انصاري شعرونه له ژورو فلسفي، تصوفي او عرفاني مضامینو ډک دے. سره له دې چې عرفاني مضامین د شعر په نازک جوړښت درندېږي خو میرزا دا مضامین په دومره هنرمندانه توګه په شعر کښې ځاے کړي چې د شعر د ناوې په ښکلا ئې لا اضافه کړې او په هغې بار شوي نه دي. په روښاني عرفاني غورځنګ کښې میرزا ځانګړے ځاے لري، دے یوازې شاعر نه، بلکې د خپل تصوفي تګلارې ستر مبلغ هم وۀ او له روښان نه وروسته ډېرو مریدانو له دۀ نه عرفاني فیض موندۀ. دولت لواڼي د میرزا په اړه وائي:

میـــرزا خـــان د نورالـــدین صـــفت بـــه ځـــو کـــړم
میاروښـــــان د پـــــوهې ښـــــار دے ئـــــې دروۀ
د هـــادي پـــه زړۀ چـــې پـــټ وۀ پـــه ډېـــر کالـــه
د میـــــرزا خولـــــۀ د هغـــــه علـــــم مظهـــــر وۀ
هـــیڅ افغـــان دۀ غونـــدې شـــعر کـــړے نـــه دے
دے پـــه خپـــل زمـــان تـــر هـــر شـــاعر بهتـــر وۀ[۲]

د دولت لواڼي له پورته بېتونو څخه څرګندېږي چې میرزا خان انصاري د خپل عرفاني طریقت کښې لوړ ځاے لرۀ. پیر روښان چې د کومې تصوفي لارې بنسټ ایښے وۀ، میرزا په ښه شان هغه پاللې وه او په علمي لحاظ په دې برخه کښې د خپل وخت تر ټولو لومړے شخص وۀ. یوازې په تصوفي او عرفاني لحاظ نه، بلکې د شعر او شاعرۍ له اړخه هم دے د خپل وخت له مهمو شاعرانو څخه وۀ. د دۀ بشپړ دیوان موجود دے چې شعر ئې ډېر لوړ او د پښتو د لومړي کتار په شاعرانو کښې ځاے لري، دۀ عرفاني موضوعات دومره شاعرانه کړي چې لوستونکی په لوستلو خوند ترې اخلي. له بلې خوا د پښتو ژبې د ارخاییکو وییو یوه لویه زېرمه هم د دۀ په دیوان کښې خوندي ده.

مخکښې مو د میرزا خان انصاري دیوان په چاپي نسخو خبره وکړه، په چاپ سربېره د میرزا خان انصاري د دیوان نسخې په افغانستان، پښتونخوا، پاکستان، هند، انګلستان او د نړۍ د نورو هېوادونو په بېلابېلو کتابتونونو، د خطي نسخو په آرشیفونو او میوزیمونو کښې په لسګونه خطي نسخې موجودې دي چې ځینې ئې تر اوسه زمونږ څېړونکو ته په لاس نه دي ورغلي او په فهرستونو کښې هم نه دي معرفي شوې. په معلومو نسخو کښې ځینې د قدامت او لرغونتیا په لحاظ ډېرې پخوانۍ او تاریخي دي چې په هغو کښې تر ټولو پخوانۍ د افغانستان د علومو

اکاډمۍ د کتابتون د خطي نسخو په برخه کښې ساتل کېږي، د کتابتون د خطي نسخو د کټلاک شمېره ئې ۱۸۴ ده. دغه نسخه په ۱۰۸۳هـ.ق کال کښې د حمید الله په نامه خطاط کتابت کړې ده. لیک ئې نستعلیق، کاغذ ئې شکري، چرمي پښتۍ لري سکښت ئې ۱۳x۹ سانتي متره، د پاڼو شمېر ۱۲۱، په هر مخ کښې ئې ۱۱ کرښې دي. نسخه بشپړه ده، خو په منځ کښې د څو پاڼو لوېدن لري، په ځینو پاڼې ئې سرې کرښې او ځینې ګډوډ خطونه شوي، څه پاڼې ئې څېرې او بیرته پینه شوي، کاغذ ئې سپین او په توره سیاهي لیک پرې شوے دے[3] بله لرغوني نسخه په برټش میوزیم کښې ده. دا نسخه په ۱۱۰۱هـ.ق کال کښې کتابت شوې ده او تر اوسه ئې دویمه پخوانۍ نسخه بللے شو[4]. دغه نسخه زمونږ موخنه موضوع ده.

**د نسخې پېژندنه**

د نسخې نوم: دیوان میرزا

د ساتلو ځاے او شمېره: برټش میوزیم (۴۲۲۸)

د دې نسخې وړونکے: جیمز ډارمستېټر

د پاڼو شمېر: ۱۱۸[i]

کچه: ۲۲ x ۱۵ سانتي متر

په هر مخ کښې کرښې: ۱۵

لیکډول: نستعلیق

کارلېدلي رنګونه: شعرونه په تور رنګ، یوازې په مقطع کښې د میرزا نوم په سره رنګ لیکل شوے، په لومړي او دویم مخ کښې په رسمونو کښې زرغون، سور، زېړ او تور رنګونه کارول شوي، د شعرونو لپاره کوم جدولونه چې جوړ شوي هغه په سره رنګ دي کوم شعرونه چې سرلیکونه لري، سرلیکونه ئې هم په سره رنګ دي.

د کتابت کال: ۱۱۰۱ هـ.ق(۹۰- ۱۶۸۹م)

کاتب: محمد محسن.[5]

د نسخې ډول: لومړي مخونه ئې نقش او نګار او پاتې جدولونه لري. رسمونه او جدولونه تر ډېره ساده خو منظم دي.

لیک: د ویلو وړ دے، ډېر بد نه دے.

د پېبل بېتونه:

نـــــن بـــــه وکـــــړم ثـــــو صـــــفت
د مولـــــــــٰی لـــــــــه ارادت
هـــــر فعـــــل چـــــې ي وينـــــې
خـــــالي نـــــدے لحکمـــــت

د پاے بېتونه:

چـــــې لمرګـــــه پخـــــوا ومـــــري
اوس فرمـــــان ک پـــــه هـــــر څـــــه کښـــــې
د میـــــرزا کفتـــــار رمـــــوز دي
کـــــدليل لـــــرِ پـــــر زړۀ کښـــــې

ترقيمه: تمت تمام شد کتاب ديوان افغاني ميرزا کايت [کاتب] فقير حقير کثيرالقصير محمد محسن ولد ملا احمد قريشي و هر کسی که برين کتاب دعوٰی کند دعوٰی او نامسموع و باطل باشد و تمام در وقت چاشت روز سه شنبه سنه ۱۰۱ ۱۰۰۰[۱۰۱+ ۱۰۰۰= ۱۱۰۱هـ.ق].

د نسخې ليکدود: د دې نسخې ليکدود روښاني دے چې د زياترو فونيمونو ګرافيمونه د ننني ليکدود په بڼه ليکلي دي، يوازې په څو تورو کښې بدلون لري. د دې تورو په اړه د.ن. ميکنزي په A Standard Pashto (/معياري پښتو) کښې يادونه کړې ده، چې د هماغه په اقتباس ئې په دې فهرست کښې هم خبره کړې ده: د ديوان د الفبا په برخه کښې ڎ د ğ /[ړ] لپاره (۴۲الف مخ)، ڊ د j /[ځ] لپاره (۴۲ب مخ)، ژ او ڔ دواړه د ž / [ژ] لپاره (۲۱مخ) او ڼ د n̲ لپاره (۹۲ب مخ) کارېدلي دي.[٦] دلته د (ڎ) يعني ڔ لپاره د ğ فونيميکه بڼه ښودل شوې په دې وروستيو کښې دا نخښه د /غ/ لپاره کارېدله. خو په A Standard Pashto (/معياري پښتو) دا نخښه د ڔ لپاره کارېدلې او د /غ/ لپاره ئې ɤ نخښه کارولې ده.[٧] دغه ليکدود د بايزيد روښان د خېرالبيان د ۱۰۲۱[ii] او ۱۰۷۹کلونو په استنساخ شويو نسخو کښې هم کارېدلے دے. معصوم هوتک د ۱۰۷۹هـ.ق کال د نسخې د ليکدود په اړه وائي: ((د سالار جنګ ميوزيم (حيدرآباد، دکن) خطي نسخه: د دې برخې [/د خيرالبيان پښتو برخه ښائي] ليکدود زمونږ څېړونکو روښاني ليکدود بللے او په دغه نسخه کښې ئې کانسونينټونه زياتره په اوسني بڼه دي او هغه چې له اوسنۍ بڼې سره توپير لري، داسې دي:

- د (ځ) له پاره تر دال لاندې ټکی ايږدي.
- د (ڔ) له پاره د دال په غبرګ کښې ټکے ايږدي.

- د (ژ) له پاره (ږ) کاروي.
- د (گ) گرافيم د سر په رساله کښې د (ګ) په شکل کاريږي او په متن کښې ئې کله په همدې بڼه او کله بيا د (ک) په ډول ليکي)).[۸]

ما سره د ميرزاخان انصاري د ديوان د درې (لومړي، دويم او اخري) مخونو عکسونه وو، چې په هغو کښې د پښتو دغه خاص توري راغلي دي: (ټ، ځ، ډ، ړ، ڈ/ږ، ښ) او دوه نور (څ او ڼ) په دغو مخونو کښې نه وو. ګ د نورو روښاني نسخو په څېر د (ګ) [غږوندے لرونکی] او (ک) په بڼه راوړل شوي دي. په لاندې بېتونو کښې د پتنګ، سترګې او مرګ په کلمو کښې د (ګ) او د ګفتار په کلمه کښې د ک په بڼه راغلے دے.

شـــمعي پـــټ وي پـــه خولـــه کښـــې
تـــه پتنـــګ څـــه ئـــې پـــه څـــه کښـــې
د بـــــاور ســـــــترګې دې نشـــــــته
چـې اختيـــار غـــوارې پـــه مـــړه کښـــې
چـــې لـــــه مـــــرګ پخـــوا ومـــــري
اوس فرمـــان کـــه پـــه هـــر څـــه کښـــې
د ميـــــــرزا کفتـــــــار رمـــــــوز دي
کـــه دليـــل لـــرې پـــر زړهٔ کښـــې[۹]

يوه يادونه اړينه ده چې «د برېتانيا کتابتونونو کښې د پښتو قلمي نسخو پېژندنه» ليکوال د دې نسخې په اړه چې څه ليکلي هغه د ( Catalogue of Pashto Manuscripts in the Libraries of the British Isles) فهرست ژباړه ښکاري، خو د ليکدود په برخه کښې ئې ليکلي دي: ((د دې نسخې په متونو کښې د (ج) لپاره (ذ) توری د (ځ او څ) لپاره د (د.) توري او د (ن) لپاره د (ژ او ږ) توري کارول شوي دي))[۱۰] ښکاري چې ليکوال د فونيمي الفبا په برخه تېروتے دے، په اصلي فهرست کښې لکه څنګه چې ويل شوي د دې ديوان الفبا په هماغه ډول ده. د (ځ) لپاره (ڊ)، د ږ لپاره (ڈ) او د ژ (ژ، ږ) توري کارول شوي دي. خ او ز په خپل شکل ليکل شوي دي.

په نسخه کښې لاسوهنې: دا چې ما يوازې د دې نسخې درې مخونه لرل، خو په همدغو درې مخونو کښې هم مونږ لاس وهنه ليدلے شو. د ميرزا د الفنامې د لومړي بند وروستي بېت په دې ډول دے:

د میـــــرزا کـــــلام شـــــېرین شـــو
د روښـــــان لـــــه برکتـــــه [۱۱]

په خطي نسخه کښې د دې بیت د دویمې مصرعې لومړۍ برخه «د روښان» توړل شوې یوازې «ن» معلومېږي او کینې اړخ ته ورته لیکلي دي. «د الله له برکته». یوه بله خبره هم چې د هېرولو نه ده هغه دا چې نسخه په ځینو برخو کښې د ځینو کلمو شرحې هم لري مثلاً که څه هم په دې نیم بېتې کښې «د روښان» توړل شوے خو شرح ئې پاتې ده، ورته لیکلي دي: «مراد ازو هادي است». همداسې له دې نه پورته یوه بیت کښې «عبارت» ته بیان او تر لاندې متن لیکل شوي همداسې نورو بېتونو او کلمو ته هم ځینې معناوې او شرحې لیکل شوي دي.

د نسخې کاتب: د دې نسخې کاتب په ترقیمه کښې خپل نوم محمد محسن د ملا احمد قریشي زوے ښودلے دے. د برټش په میوزیم کښې د میرزا خان انصاري دیوان د یوې بلې نسخې په ترقیمه کښې ئې لیکلي دي: ((تمت تمام شد کتاب میرزا کتبه فقیر حقیر محمد محسن ساکن بدبیر)). [۱۲] دغه دویمه نسخه چې په ۱۷۰۰م کال کښې کتابت شوې ده او له لومړۍ صفحې سره یوازې ۱۰ یا ۱۱ کاله تفاوت دے؛ نو څرګندېږي چې د دې دواړو نسخو کاتب یو کس دے. د «کاتبان» لیکوال هم چې د دې کاتب په اړه کوم معلومات لیکلي هغه د همدې فهرست ښکاري: ((محمد محسن، قریشي: د پلار نوم ئې ملا احمد و. د بدبیر؟ (بډه بېرې، پښتونخوا) اوسېدونکے وۀ. دغه ذکر د دۀ د یو نسخې په حواله پروفیسر میکنزي (۱۹۲۲- ۲۰۰۱ع) کړے دے، چې دا به محسن قریشي وي، په دغه حواله ئې د دوو نسخو په ښوولو یو کاتب ګڼم. د دولسمې (۱۲) هجري پېړۍ له هغو کاتبانو څخه و چې د روښانیانو کتابونه ئې کتابت کړي دي. تر ۱۷۰۰ع= ۱۱۱۱ق پورې ئې ژوند یقیني دے. د دۀ کتابت کړي آثار زمونږ د تاریخ برخه دي چې په نستعلیق او نسخ خط باندې دي)) [۱۳] د محمد محسن د نورو استنساخ شویو نسخو په اړه تر اوسه څه معلومات نه شته، خو د نسخې له لیک، جوړښت، ډول او د دواړو نسخو له مهالني واټن څخه ښکاري چې ده کتابت کاوه، چې کېدے شي نور آثار ئې هم کتابت کړي وي چې تر مونږه نه دي رارسېدلي.

د نسخې وضعیت: په ورستي ځل چې دا نسخه ډاکټر محمد افتاب لیدلې او انځورونه ئې په خپلې فیسبوک پاڼه خپاره کړي وه، په اړه ئې لیکلي دي: ((کاغذ ئې ډېر ضعیفه شوے دے)). [۱۴] څرګندېږي چې نسخه ډېره کمزورې شوې خو دا چې په داسې یو مهم کتابتون کښې ساتل کېږي، نو نسخه تر اوسه پورې ساتل شوې او باید د میرزا په دیوان کښې استفادې ترې وشي او تر

ممکنې کچې د هغې د نرمې (سافټ/ عکسي) بڼې د تر لاسه کولو هڅه وشي.

دا چې دا نسخه د برټش د میوزیم په فهرست کښې معرفي شوې وه، زمونږ په ادبي کړیو کښې نوې موندل شوې نسخه نه ده، خو تر ټولو مهمه دا ده چې له دومره تاریخي والي سره سره بیا هم زمونږ څېړونکو ترې ګټه نه ده اخستې او د هغې د ترلاسه کولو او یا نه ترلاسي په اړه ئې هیڅ څرګندونې نه دي کړي.

د متونو په تدوین او تصحیح کښې یوه نسخه څومره اهمیت لري؟ د دې پوښتنې ځواب به د متن پوهنې له نظره وړاندې کړو. د نسخې اړوند متن پوهنې یو مهم بحث د اصل انتخاب دے چې له دې نه دنسخو ډولونه او اهمیت ښه څرګندیږي؛ د متن پوهانو له نظره د اصل د انتخاب لپاره دا لاندې شرایط په پام کښې نیول کیږي:

(۱) که چیرې د متن په لاس ته راغلیو نسخو کښې داسې نسخه وي چې د لیکوال او شاعر په خپل خط وي او هغه په خپله لیکلې وي، نو دا نسخه د اصل په توګه انتخابیږي او نورې نسخې ځکه ورسره مقابله کیږي چې ښائي شاعر په خپل ژوند کښې نور اشعار هم ویلي وي او که نسخه نثر وي امکان شته چې وروسته ئې په همدې اثر په کومه بله نسخه کښې اضافې کړې وي چې دا ډول اضافې د شاعر او لیکوال په قلم لیکلو شویو نسخو کښې ښائي نه وي راغلې.

(۲) که په لاس ته راغلیو نسخو کښې د شاعر او لیکوال په خط لیکل شوې یا د دوی په سپارښت د بل چا له خوا لیکل شوې نسخه نه وي، خو داسې نسخه موجوده وي چې لیکلې بل چا وي اما شاعر او لیکوال کتلې وي او اصلاحات ئې په کښې کړي وي یا د کاترې په قول:(Introduction to Indian textual criticism) د شاعر یا لیکوال تر نګرانۍ لاندې لیکل شوې وي. بیا دا نسخه باید د اصل په توګه انتخاب شي. یا دا چې نسخه د شاعر یا لیکوال له خوا یو ټاکل شوي شخص- (نماینده) – د شاعر یا لیکوال د شاګرد تر نګرانۍ لاندې لیکل شوې وي.

(۳) که دا وړ نسخه هم په نسخو کښې نه وي چې د متن ویونکي یا لیکوال کتلې او اصلاح کړې وي ، نو بیا داسې یوې نسخې د اصل په توګه انتخابول پکار دي چې د متن د خاوند په زمانه او یا را وروسته زمانو کښې کوم شاعر او یا لیکوال د ځان لپاره په خپله لیکلې وي او یا ئې په بل چا لیکلې خو ده کتلې او اصلاح کړې وي.

(۴) د کاترې په قول په پخوا زمانو کښې د ملکونو د مشرانو، نوابانو او راجاګانو لپاره د علماؤ د یوې ډلې تر نظر لاندې نسخې لیکل کېدې. په دې ډول نسخو کښې به هم غلطۍ نه وې یا لږې وې. که د محقق په کتلو نسخو کښې د لوړو یادو شویو شرایطو نسخې نه وي او دا ډول-

پاچا یا نواب یا راجا لپاره لیکل شوې- نسخه ورسره وي، نو پکار دي چې دا نسخه د اصل په توګه انتخاب شي.

(۵) که د نسخو په منځ کښې بل شاعر او یا لیکلوال لیکلې او یا کتلې یا د باچا، نواب او راجا لپاره لیکلې نسخه هم نه وي، نو بیا باید داسې نسخه د اصل په توګه انتخاب شي چې د شاعر په عصر کښې او یا د هغه عصر ته لنډه زمانه کښې باسواده خطاط لیکلې وي معنا دا چې غلطۍ او تحریفات و نه لري.[۱۵]

پورته شرایطو ته په کتو سره تر اوسه پورې داسې کومه نسخه څېړونکو ته په لاس نه ده ورغلې چې په خپله د میرزا خان انصاري او یا د دهٔ له خوا کوم شاعر یا کس په دې مامور شوے وي چې د دهٔ دیوان کتابت او خطاطي کړي او دے ئې وګوري او یا ئې له نزدې کسانو څخه د کوم یوه له خوا دې کتابت شوې وي. د میرزا زمانې ته تر ټولو نزدې نسخه چې تر اوسه موندل شوې هغه د افغانستان د علومو اکاډمۍ په خطي نسخو کښې خوندي د ۱۰۸۳هـ.ق کال نسخه ده. د دې نسخې په اړه څېړنمل دوست شینواری لیکلي دي: دغه نسخه په دې تازه وختونو کښې د پښتو ټولنې کتابخانې ته رسېدلې ده د لیکلو د نېټې په لحاظ له موجوده ټولو نسخو څخه معتبره ده ځکه چې په ۱۰۸۳هـ.ق کښې لیکل شوې او بیخی بشپړه ده د روښاني الفبا پوره مراعات په کښې شوے دے خو د لیک دود غلطي زیاتې لري[۱۶] د متن پوهنې د اصولو له مخې د اوس لپاره چې د میرزا خان انصاري دیوان تدوینېږي باید همدغه نسخه د اساس نسخې په توګه وټاکل شي او نورو نسخې په دې هیله چې په دې نسخه کښې د تېروتنو د حل او یا د ځینو بېتونو او شعرونو د زیاتوالي لپاره ورسره پرتله شي چې په دغو نسخو کښې تر ټولو مخکښې د برټش میوزیم د خطي نسخو په برخه کښې خوندي د ۱۱۰۱هـ.ق کال نسخه ډېر اهمیت لري ځکه د نورو نسخو په نسبت د میرزا د ژوند زمانې ته نزدې ده. متن پوهان په دې نظر دي چې د متن‌څېړونکي لپاره دا عذر نه شي کېدے چې که کومه نسخه لرې وي او د هغې د لاس ته راوړلو هڅه دې ونه شي، متنپوه نجیب مایل هروي لیکلي دي: ((مصححان دا اجازه نه لري چې له نسخې څخه د واټن او یا هغې ته د نه لاسرسي پلمې وکړي))[۱۷]. له دې څخه ثرګندېږي چې د متونو تدوین او تصحیح یو مسئولیت دے چې متن څېړونکی باید خپل ټول ځواک په کار واچوي تر څو په نړۍ کښې ثرګندې نسخې تر لاسه او د ډاډ وړ متن د تدوین لپاره ګټه ترې واخلي. د میرزا د دیوان د تحقیقي متن برابرونکو، نه یوازې چې د دې نسخې د ترلاسه کولو لپاره ئې هڅې نه دي کړې بلکې حتی یادونه ئې هم نه ده کړې او له سریزو څخه ثرګندېږي چې دوی د دې نسخې په اړه هیڅ

معلومات نه لارهٔ.

پوهندوی مطیع الله روهیال د خپل تهیه کړي متن د اساس نسخې د زوړوالي په اړه چې د حیدر آباد د دکن په اورینټل مانسکریپټ لایبرري کښې خوندي نسخه ده او د قراینو له مخې په ۱۱۲۳هـ.ق کال کښې لیکل شوې ده، لیکلي دي: «دا نسخه پرته د پښتو ټولنې (اوس علومو اکاډمي) له یوې زړې نسخې څخه چې په ۱۰۸۳ق کال لیکل شوې د میرزا خان د دیوان تر نورو ټولو معلومو نسخو زړه ده». [18]

له دې څرګندیږي چې ښاغلي روهیال د میرزا خان انصاري د دیوان د تدوین پرمهال نه (Catalogue of Pashto Manuscripts in the Libraries of the British Isles) او نه هم د شهسوار سنګروال (د بریتانیا کتابتونونو کښې د پښتو قلمي نسخو پېژندنه) او حتی د خیرالبیان سریزې ته ئې هم پاملرنه نه ده کړې چې هلته ښاغلي معصوم هوتک د دې نسخې یادونه کړې ده. «په دغو نسخو [برټش میوزیم] کښې زړه ترینه نسخه دیوان میرزا دے چې په ۱۱۰۱هـ ق کال خطاطي شوي دي». [19] یوازې دا نسخه نه بلکې په برټش میوزیم کښې دوه نورې نسخې چې په (Catalogue of Pashto Manuscripts in the Libraries of the British Isles) کښې ۲۹ [(iv)] او ۷۰ [(v)] ګڼه معرفي شوي دي هم د دکن له نسخې څخه مخکښې دي او په ۱۲- ۱۱۱۱هـ.ق/ ۱۷۰۰ز کال کښې استنساخ شوي دي. یوازې روهیال نه بلکې څېړنپوه ډاکټر عبدالقیوم مشواڼي هم د خپل تصحیح کړي «د میرزا خان انصاري دیوان» په سریزه کښې د دې نسخو هیڅ یادونه نه ده کړې. له دې مخکښې هم چې د میرزا خان انصاري دیوان کوم تحقیقي متون چاپ شوي دي، یوه هم د دغو نسخو یادونه او یا د ترلاسه کولو د هڅو په اړه څه نه دي ویلي. متن پوهنه دا ایجابوي چې مخکښې د متن له تدوین او تصحیح څخه د هغه متن ټولې نسخې چې په بېلابېلو فرهنګي حوزو، د نړۍ په کتابتونونو خوندي دي د هغو پلټنه وکړي، چې د موندلو ښه لاره ئې خپاره شوي فهرستونه دي او د هغو د لاسته راوړلو هڅه دې وشي او یوازې د لرې واټن او داسې نورې پلمې د دې باعث نه شي کېدے چې مدون دې د هغو نسخو څخه په غفلت کښې خپل متن تیار کړي په ځانګړي ډول چې نسخې په تاریخي لحاظ معتبرې او لرغونې وي. که چېرې دې چارې ته پاملرنه و نه شي نو د هغو خوارۍ به خدا ے مه کړه په سیند لاهو شي او هغسې چې په کار ده، هماغسې د ډاډ وړ متن به تدوین او تهیه نه کړے شي.

پایله

د دې لیکنې په پایله کښې ویلے شو چې په تاریخي لحاظ تر اوسه په لاس ته راغلو د میرزا خان انصاري دیوان نسخو کښې تر ټولو معتبرې نسخې لومړے د افغانستان د علومو اکاډمۍ په خطي نسخو کښې خوندي د ۱۰۸۳هـ.ق کال لیکل شوې نسخه ده، وروسته له هغه د برټش په میوزیم کښې (۴۲۲۸) ګڼه خوندي نسخه ده. دغه نسخه د ( Catalogue of Pashto Manuscripts in the Libraries of the British Isles) کښې معرفي شوې خو څرګندېږي چې د میرزا خان انصاري د دیوان برابرونکو یوه هم دغې نسخې ته پاملرنه نه ده کړې او حتی له سریزو څخه څرګندېږي چې د دې نسخې په اړه هیڅ معلومات نه لرل. متن پوهنه په دې برخه کښې مدون ته د پلمو اجازه نه ورکوي، یعنې مدون باید تر وروستۍ هڅې کوشش وکړي چې نسخې ترلاسه او د یو باوري او د شاعر او لیکوال اصلي متن ته ځان رسولو لپاره ګټه ترې واخلي. د میرزا خان انصاري د دیوان د دغې قلمي نسخې تاریخي قدامت او کیفیت دا ایجابوله چې د نومورړي د دیوان د یوه ډاډمن او کره متن په تدوین کښې باید ګټه ترې اخیستل شوے وے، له دې نسخې ګټه نه اخیستل کېدے شي د دې باعث شي چې په راتلونکې کښې د میرزا خان انصاري دیوان د بیا تدوین اړتیا پېښه شي.

وړاندیزونه

1. د میرزا خان انصاري دیوان په بیا چاپ کښې دې له دغې نسخې څخه کار واخستل شي.
2. د افغانستان علومو اکاډمۍ دې د دغې نسخې د کاپي د ترلاسه کولو هڅه وکړي تر څو دا مهمه نسخه خوندي کړي.
3. د افغانستان علومو اکاډمۍ او تر څنګ نورې ادارې چې د خطي نسخو د زېرمې په برخه کښې کار کوي په ځانګړي ډول د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د ملي آرشیف اداره دې په هېواد، پښتونخوا او نوره نړۍ کښې د خطي نسخو د موندلو، فهرست کولو او د نسخې او یا کاپي د ترلاسه کولو هڅې وکړي.

یادښتونه

(i). شهسوار سنګروال د دې نسخې د پاڼو شمېر (۱۳۹) ښودلے دے. (سنګروال، ۲۰۱۰، ۹۱مخ). کېدے شي دا ټایپي تېروتنه وي، ځکه څرګندېږي چې د دې سنګروال د دې نسخې په اړه

معلومات له فهرست (CPMLBI) څخه اخيستي چې هلته ۱۱۸ پاڼې ښودل شوي دي.

(ii). د ۱۰۲۱هـ.ق کال د نسخې لپاره وګورئ د کابل چاپ خيرالبيان په سريزه کښې د ليکدود برخه (۵۵- ۸۰مخونه).

(iii). له (ګ) پرته نور په ننني ليکدود ليکل شوې.

(iv). د دې نسخې خطاط محمد محسن د بهبېرې دے. انډيا آفس لائبرېري، د ثبت ګڼه (Pashto B. 19) ده.

(v). د دې نسخې خطاط ملا کمال دے، برټش موزيم، ثبت ګڼه: (۴۴۹۷). د دې نسخې د نېټې (۱۷۰۰/ ۱۲-۱۱۱۱) په اړه د «کاتبان» ليکوال (عبدالکريم عامر) شک ښودلے. وګ: کاتبان، دويم ټوک۹۵۲- ۹۵۳مخونه.

## حوالې


1. لواڼی، دولت. (۱۳۵۳). د دولت لواڼي دیوان. سریزه پوهاند عبدالشکور رشاد. کابل: پښتو ټولنه. ۲۰ مخ.
2. همدغه اثر، ۲۰مخ.
3. دوست، شریف الله. (۱۳۹۹). د افغانستان د علومو اکاډمي د پښتو خطي نسخو تحلیلي څېړنه. کابل: د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست. ۲۰۲- ۲۰۷ مخونه.
4. . Blumhardt, James Fuller and Mackenzie, D.N. (1965). Catalogue of Pashto Manuscripts in the Libraries of the British Isles. London: The Trustees the British museum and Commonwealth Relations Office, pp 60- 61
5. همدغه اثر، ۲۰مخ.
6. همدغه اثر، ۲۱مخ.
7. MacKenzie, D.N. (1959). ((A Standard Pashto)). Bulletin of the School of Oriental and African Studies University of London. Volume XXII. Part2. London: BSOAS. p. 232
8. هوتک، محمد معصوم. (۱۳۹۲). «د سریزې په ځای». په خیرالبیان. کندهار: علامه رشاد خپرندویه ټولنه. ۳۱مخ.
9. محمد افتاب. (۲۰۲۵). فېسبوک پوسټ. لاسرسی: https://www.facebook.com/share/p/1YeUUgsXZR/، د پوسټ نېټه: ۲ جولای ۲۰۲۵، د مراجعې نېټه: ۲۰ د اګسټ ۲۰۲۵م.
10. سنګروال، شهسوار. (۱۳۸۹). د برېتانیا کتابتونونو کښې د پښتو قلمي نسخو پېژندنه. کابل: مؤسسه انتشارات الازهر. ۹۲مخ.
11. انصاري، میرزا خان. (۱۳۵۴). د میرزا خان انصاري دیوان. د خېرنمل دوست په سریزه، سمون او لمنې. کابل: پښتو ټولنه. ۲مخ.
12. Blumhardt and MacKenzie, Catalogue of Pashto Manuscripts in the Libraries of the British Isles, p. 63
13. عامر، عبدالکریم. (۲۰۱۹). کاتبان. دویم ټوک. کوټه: پښتو څېړنه. ۱۱۱۲مخ.
14. محمد افتاب. (۲۰۲۵). فېسبوک پوسټ. لاسرسی: https://www.facebook.com/share/p/1YeUUgsXZR/، د پوسټ نېټه: ۲ جولای ۲۰۲۵، د مراجعې نېټه: ۲۰ د اګسټ ۲۰۲۵م
15. هبوادمل. زلمی. (۱۴۰۲). د متنپوهنې میتودولوژي. لکچرونه. کابل: د افغانستان د علومو

اکاډمي. ناچاپ. ۴۰- ۴۱مخونه.
16. [1]. دوست. (۱۳۵۴). «هغه کتابونه چې د دغې مجموعې په ترتیب کښې ور نه کار اخیستل شوے دے». د میرزا خان انصاري دیوان باندې سریزه. کابل: پښتو ټولنه. پنځم مخ.
17. مایل هروي، نجیب. (۱۴۰۲). نقد و تصحیح متون (مراحل نسخه شناسے وشیوه های تصحیح نسخه های خطی فارسی. ویرایش دوم. هرات: بنیاد فرهنگی مایل هروی. ۲۲۲مخ.
18. روهیال، مطیع الله. (۱۴۰۳). «سریزه». د میرزا خان انصاري دیوان [مشهور په هدایة الحقیقت] لیکل شوې سریزه. کندهار: علامه رشاد خپرندویه ټولنه. ۱۷مخ.
19. هوتک، محمد معصوم. (۱۳۹۲). «د سریزې په ځاے». خیرالبیان. ۲۲مخ.

## Reference in Roman

1. .Lwanray, Dawlat. (1353). Da Dawlat Lwanri Diwan. Sariza Pohand Abdul Shkur Rishad. kabal: Pashto Tolana. P. 20.
2. .Ham dagha makhaz. p. 20.
3. .Dost, Sharifullah. (1399). Da Afghanistan da Olumo Academy Da Pashto Khati Nuskho Tahlili Sirna. kabal: Da Olumo Academy. Pp. 206- 207.
4. .Blumhardt, James Fuller and Mackenzie, D.N. (1965). Catalogue of Pashto Manuscripts in the Libraries of the British Isles. London: The Trustees the British museum and Commonwealth Relations Office, pp 60-61
5. .Ham dagha makhaz, p 60
6. .Ham dagha makhaz, p. 61
7. .MacKenzie, D.N. (1959). ((A Standard Pashto)). Bulletin of the School of Oriental and African Studies University of London. Volume XXII. Part2. London: BSOAS. p. 232
8. .Hotak, Muhammad Masom. (1396). «Da Sarize Par Zay». Par Khayr-ul-Bayan. Kandahar: Alama Rishad Khparandoya Tolana.p. 31
9. .Muhammad Aftab. (2025). Facebook post. Khati nuske wrostay makh. Lasrasay: https://www.facebook.com/share/p/1YeUUgsXZR/, Da post Neta: 2 July 2025, Da Murajyi Neta: August 20, 2025 .
10. .Sangarwal, shah Suwar. (1389). Da Britania Kitabtunono ke Da Pashto Qalmi nuskho Pezhandana. kabal: mosisa-e-intisharat Al-Azhar.p. 92
11. .Ansari, Mirza khan. (1354). Da Mirza khan Ansari Diwan. Da Siranmal Dost paa sareza, Samon ao lmany. Kabul: Pashto Tolana. P. 2

12. .Blumhardt and MacKenzie, 1965, p. 63
13. .Aamir, Abdul Karim. (2019). Katiban. 2 Tuk. kota: Pashto Serana. P.1116
14. .Muhammad Aftab. (2025). Facebook Post. Lasrasay: https://www.facebook.com/share/p/1YeUUgsXZR/, Da post Neta: 2 July 2025, Da Murajyi Neta: August 20, 2025.
15. .Hewadmal. Zalmy. (1402). Da Matanpohani metodology. lecturona. kabal: Da Afghanistan Da Olumo Academy. Na chap. Pp. 40- 41
16. .Dost. (1354). «Hagha kitabuna chi da daghi majmuie pa tartib ke war naa kar akistal shawi day». Da Mirza khan Ansari Diwan bandy sareza. kabal: Pashto tolana. pپنځم .
17. .Mael Herawi, Najib. (1402). Naqd wa Tashih Matan (Marahil nuskha shinasi wa shiwa hay tashih Nuskha hay Khati Farsi. wiraish doam. Herat: Bunyad-e-Farhangi Mael Herawi. p. 266
18. .Rohyal, Matiullah. (1403). «Sariza». Da Mirza khan Ansari Dewan [Mashhor pa Hidaya-ul- Haqiqat] likal shawe sariza. kandahhar: Alama Rishad khparandoya Tolana. p. 17
19. . Hotak, Muhammad Masom. (1396). «Da Sarize Par Zay». Par Khayr-ul-Bayan. Kandahar: Alama Rishad Khparandoya Tolana. p. 22